# Female Writers of Pashto Literature in District Sawabi (Part II)

# د صوابۍ پښتنې لیکوالې

## (دوېمه برخه)

**Dr Sher Zaman Seemab***
**Paghunda Mukhtiar♣**

**ABSTRACT:**

Swabi is a very famous and well-known area of the Khyber Pakhtunkhwa province, which is administratively known as Swabi District. This region has produced such great people in every field of the life, who are currently performing important services in all the institutions of the country. In the field of poetry and literature, famous writers and poets have been born here. Along with poetry, they have done important works in the field of literary prose, especially, significant works have been done in the field of drama, novel and short story. And hundreds of books and other literary works have been published here. Along with the male writers in this area, a large numbers of female writers have also done significant services for their language and literature. their books and other literary works have been published in all genres of literature.

**Key words**: swabi, poetry, novel, drama, short story, literary prose.

په خیبر پښتونخوا کښې د صوابۍ ضلع په هغه ضلعو کښې ښکاره مقام لري کومې ضلعې چې خپل خصوصي شهرت لري هغه که د تعلیم مېدان وي، د لوبو یا نورې داسې د شهرت حوالې وي نو صوابۍ دې لړ کښې خپله ځانګړې پېژندګلو لري. ولې په دې ټولو حوالو کښې چې کومه لویه پېژندګلو د صوابۍ کېږي هغه د تاریخ په پاڼو کښې په دې علاقه د راجه جې پال او محمود غزنوي او انندپال هغه جنګونه دي چې د هندوستان په تاریخ کښې ئې لوی بدلون راوستی دی. د علم و ادب په لړ کښې چې د پانیني غوندې د شهرهٔ افاق ذکر کېږي نو د

* Assistant Professor Pashto Academy, University of Peshawar.
♣ Senior Investigative Research officer, Pashto Academy UOP

صوابۍ د ورکوکي لاهور تذکره کېږي او داسې د ادبیاتو په لړ کښې هم تر دې دمه په دې خاوره نوموړي لیکوال زېږېدلي دي او د علم او ادب په مېدان کښې ئې د قدر وړ کار کړی دی.

دا وخت چې د نارینه لیکوالو شمېره زیاته ده او د پښتو ادبیاتو په مېدان کښې د ځلنده مقام حېثیت لري. په دې سیمه زنانه لیکوالې هم موجود دي چې د ادب په مېدان کښې خپله برخه کار ترسره کړی دی او یا لګیا دي د خپلې ژبې او ادب خدمت کوي.

د زنانه لیکوالو په دغه ګلدسته کښې چې کومې لیکوالې د خپل فکر و فن خوشبوګانې خوروي د هغوي د کار، زیار او ژوند په حقله پېژندګلو په دې ډول ده.

## (۱) سیده فاضلا شهلا

د کاکاخېلو دا لیکواله د میا خېرالحق ګوهر لور او د سیده ثروت جهان کوکب کشره خور ده. چې په صوابۍ توروډهیري کښې په کال **۱۹۲۲**ء کښې پېدا شوې ده. دوی ته په خپل کور کښې د پلار او خور له خوا یو ادبي ماحول په لاس ورغلی ؤ. نو ځکه ئې د پینځو کالو په عمر کښې په اردو ژبه کښې قیصه لیکلې وه. دغه قیصه چې کله د ماشومانو په رساله کښې شائع شوه نو د لوستونکو له خوا ئې ستائینه اوشوه چې ددې ماشومې د لیک لوست دپاره یوه لویه حوصله افزائي وه. ورستو بیا دوی په اردو او پښتو کښې منظوم او منثور خدمات ترسره کړل. شاه جهان صېب د سیده فاضلا شهلا د ذهانت او لیک داد څۀ په داسې رنګ کوي.

''سیده فاضلا شهلا چې د پښتو افسانې په ذریعه د پښتو ادب کوم خدمت کړی دی او په پښتنه معاشره کښې ئې د ښځو په مشکلاتو په کوم انداز کښې قلم پورته کړی دی. د هغې په وجه په پښتنو لیکوالو خوېندو کښې ډېر اهم مقال لري. د دوی د لیک نمونه څۀ دا رنګ ده.

چانډ وري، ګلونه او ازغي، او د نظم په شکل کښې ئې دوه بازان په پښتو کښې دي"(**1**).

سید فاضلا شهلا د افسانه، ناول او نظم نه علاوه ډرامه هم لیکلې ده. په دې لړ کښې کلثوم زیب لیکي :

''یوه ډرامه ئې لیکلې ده چې په رېډیو د خوېندو په پروګرام کښې نشر شوې ده. څۀ افسانې ئې جمهور اسلام کښې چاپ دي او څۀ اولس کوئټې ته رالېږلي دي. اباسین چې کله د پېښور نه شروع شو نو دوی خپله افسانه ''زنځیرونه'' چاپ ته اولېږله. د دودي چاپ دپاره لېږلې افسانې به اکثر ډډې ته کړې شوې. ددې له کبله د شهلا زړۀ مات شو او بیا ئې لیک په اردو ژبه کښې شروع کړو"(۲).

## (۲) کلثوم افضل زیدوي

د اردو، پښتو دا شاعره، ادیبه چې نوم ئې کلثوم افضل زیدوي دی د صوابۍ د مشهور کلي زیدې سره تعلق لري. دا محترمه د شاه افضل کره په ۲۹ / اکتوبر ۱۹۷۹ء کښې پېدا شوې ده. د تعلیم په سلسله کښې د خپل کلي زیدې نه لسم پاس کړی دی او بیا د ایم اې او ایم ایډ سندونه هم ترلاسه کړي دي. د تعلیم دحصول نه پس ئې د مردان د جینکو په هائي سکول کښې نوکري شروع کړه چې تر دې دمه د مرداند جینکو په هائي سکول کښې خپل ملازمت کوي.

کلثوم افضل زیدوي په اردو اوپښتو دواړو ژبو کښې لیکل کوي او دا وخت ئې د اردو پښتو څو کتابونه چاپ دي چې په هغې کښې د هجر موسمونه، اعتبار په چا، رڼې اوښکې، عجیبه محبت، انکشاف، سنګ تارې (شاعري) وغېره.

د کلثوم افضل زیدوي د شاعرۍ په حواله ناصرعلي سید ډېر زړۀ پورې انکشاف کړی دی هغه لیکي چې:

"اگر کلثوم کی شاعری سے کمٹمنٹ اسیطرح جاری رہی تو جلد ہی وہ اپنا نام معتبر شاعروں کی فہرست میں درج کرنے میں کامیاب ہو جائے گی اور مزید عمدہ اشعار کہہ پائے گی"(۳).

د کتاب ''عکس جمال'' نه یو څو شعرونه وړاندې کوو.

دنیــــا داري بـــه څنګـــه وشـــي د دنیـــا نـــه بغېـــر
څنګـــه بـــه اوکـــړي محبـــت څـــوک د وفـــا نـــه بغېـــر
ولـــې مـــې یـــره د طوفـــان د راتلـــو نـــۀ بـــه کېـــږي
د خیـــال محـــل چـــې مـــې غـــوزار شـــو د هـــوا نـــه بغېـــر

ډېـــــــر يادونـــــــه د جانـــــــا
لکـــــه ځـــــاځکي د بـــــاران
پـــــه شـــــېبو شـــــېبو ورېـــــږي
د وفـــــا پـــــه نخلســـــتان
چــا چــې ســر ګرېــوان کښــې ټيــټ کــړو
دی بـــــه اوپېژنـــــي ځـــــان "(۴).

د کلثوم افضل زيدوي د ليک نه بغېر نامور شخصيات متاثر دي او وخت په وخت ئې ستائينه کوي. د هغې ''د هجر موسمونه'' په باب پروفېسر نورالامين يوسفزی ليکي :

'' نو د نن شاعره به د نن دور سانده کوي او د نن جذبات به سندره کوي. هغه به دا سوال هم را اوچتوي چې داسې ولې کېږي او د چا دلاسه کېږي نو هله به ئې په فن کښې **Poetic Truth** او **Poetic Depth** پېدا کېږي. او بيا به دغه فن د پښتون اولس په زړونو سلطاني کوي. د کلثوم په شاعرۍ کښې خال خال د زنانوؤ دردونه هم محسوسېږي خو د اصلاحي رنګ او ژوند حقيقتونه پکښې هم سرغړنې کوي. خو په قامي او کلتوري **Issue** په تخليقي انداز کښې خبره کول پرې دخپلې خاورې فرض دی"(۵).

## (۳) کلثوم زېب

نن سبا چې پښتنې زنانه ليکوالې په ادبي دنيا کښې او د خپل ليک په حواله خپله پېژندګلو پېدا کړې ده. ولې دې سره څۀ داسې ليکوال هم شته چې دې سره ادبي هلې ځلې هم کوي چې په کښې يوه محترمه کلثوم زېب هم ده. دا اغلې د صوابۍ د ډېر مشهور کلي مانيرۍ د خدائي خدمتګار سجاول خان لور ده چې په کال ۱۹۲۱ء کښې پېدا شوې ده. د وړوکالي نه ئې د خپل کور د ماحول مطابق ادبي او سياسي اثر اخستی دی. هم په دې وجه د اردو پښتو د ليک سره په سياسي هلو ځلو کښې هم پوره پوره برخه لري. وادۀ ئې د خپل ترۀ زوی کامريډ انور زېب سره شوی دی. چې نن سبا د پېښور په حيات اباد کښې ژوند کوي. د تعليم په سلسله کښې د لسم نه ورستو ايف اې، بي اې او ايم اې اردو په پرائيوېټ حېثيت کړې دي. او د نوکرۍ په سلسله کښې د پرائمري سکول دهېډ

مسترس په عهده سبکدوش شوې ده. په ادبي خدماتو کښې ئې تږې سترګې، تور ګلاب، چاند ګل، پښتنې ملغلرې او ډاکټر سلمیٰ شاهین فن او شخصیت، لمسِ حیات (اردو شاعري)، ځلنده سباؤن (پښتو شاعري) شامل دي.

کلثوم زېب د لیک د مېدان نه علاوه د ادبي هلو ځلو دپاره هم خپل کردار ادا کوي او دا وخت ئې د خوېندې ادبي لښکر په نوم یو ادبي تنظیم هم فعال ساتلی دی. چې ګڼ شمېر زنانه لیکوالې پکښې راغونډې دي. او تر دې دمه ئې درنې اولوئې ادبي غونډې کړې دي. په ''تږې سترګې'' کتاب د سېف الرحمان سلیم صېب لیکي :

''زما دپاره دا د خوشحالۍ خبره ده چې یوې بلې مېرمنې جرات اوکړو او د پښتو ژبې د لیکونکو په صف کښې اودرېده. یقیناً دا د پښتو دپاره د ویاړ خبره ده تر څو چې د مېرمن نازو د کلام تعلق دی نو په دې کښې ټول لوازمات شته کوم چې عشقیه او رومانوي شاعري حسن ګڼلی شي. د بېلتانهٔ شوګیرې او بې قرارې د خپلې وفا ثبوتونه او دلیلونه د مطلوب بې پروائي او جفا کاري، د اسوېلو لوخړې او د اوښکو بارانونه او کله نه کله د وصال د وخت خوږهٔ یادونه او بیا انتظار نه ختمېدونکې ورځې شپې د نازو بي بي په کلام کښې دا هر څهٔ شته"(۶).

هم دغه شان په ''ځلنده سباؤن او تور ګلاب'' پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین سریزه لیکلې ده. هغه لیکي :

''کلثوم زېب شاعره ده، الله پاک د لیک صلاحیت وربخښلی دی. هم نظم لیکي هم نثر لیکي. دا د الله پاک خپله پېرزوئنه ده چې د چا نه د څهٔ هنر په اړه خپل کار څهٔ کارونه واخلي. ''ځلنده سباؤن'' د کلثوم د شاعرۍ مجموعه ده. د عنوان نه ئې ظاهره ده چې یو درد منده زړهٔ لري او د ټولنې د احساس سره خپل یو مثبت پېغام ورکول غواړي"(۷).

## (۴) مس الفت بېګم درد

د صوابۍ په خاوره چې د زنانه لیکوالو کوم مؤثر غږ د پښتو ادب په اسمانکښې خپلې غبرې خورې کړې دي. هغه د مس الفت بېګم درد غږ دی چې د خپل درد او کرب نه راپېدا شوی دی او د پښتوشعري ادب ته ئې ښکلا ورکړې ده.

الفت بېګم درد په کال ۱۹۲۵ء کښې د صوابۍ په نوي کلي کښې پېدا شوې ده. دا چې لاماشومه وه. د مور او پلار سوري ئې د سر نه لاړو. ولې دې پښتنې پېغلې د ژوند په دغه حادثه کښې د عزم او حوصلې یو داسې تاریخ رقم کړو چې د ډېر کمو خلقو په برخه کښې وي. دې پښتنې لیکوالې خپل ژوند او ځواني د خپلو خوېندو او روڼو دپاهر وقف کړه. او دغسې ئې تر مرګه پورې د روڼو خوېندو د خدمت په جذبه خپل ژوند تېر کړو او په کال ۱۹۷۷ء کښې وفات شوه او ددې دنیا نه سترې ستومانه لاړه.

مس الفت بېګم درد د پښتوشاعرۍ داسې نامه ده چې د هغې تخلیقات نه یواځې د صوابۍ ادب په برخه کښې او نۀ یواځې د زنانه لیکوالو د ادب په برخه کښې مونږ وینو بلکې د ټول پښتوادب په برخه کښې ددې زنانه لیکوالې خدمات د ستائلو دي. په دې چې د پښتو عمومي ادب کښې ددې لیکوالې فکر و نظر یو انفرادي حېثیت لري. په دې چې دې زنانه لیکوالې دخپل داخلیت په داسې ادبي انداز پرده پورته کړې ده چې دغه د پښتنې معاشرې د یوې زنانه احساسات کېدی شي. د دوی شعري مجموعه ''حیات درد'' په خپله لمن کښې د ښځني احساساتو پوره پوره ترجماني کوي ښاغلي میا سید رسول رسا د مس الفت بېګم درد د شاعرۍ په حقله وائي چې:

'' یو احساس زړۀ چې د بې درده دنیا د حادثاتو سره خامخ شي او د مور پلار د اسرې نه محرومه وي نو داسې زړۀ چې قدم په قدم یو قیامت صغرٰی تېرېږي. د مس درد شاعري په حقیقت کښې ددغې لوغړن زړۀ د زخمي احساساتو او جذباتو شاعري ده او په دې سبب په مجموعي حېثیت درد او غم او یاس او نا امیدي د فرمان نصیبۍ، فنوطي شاعري ده"(۸).

الفت بېګم درد خپله هم په ''حیات درد'' د خپلو احساساتو اظهار کړی دی هغه لیکي:

''زۀ د مور او پلار غم داسې درد منده کړمه چې د شاعرۍ دنیا ته راغلم او دهر دردمند زړۀ اواز شومه. او دا خبره هم ده چې زۀ پېدائشي شاعره وومه. خو زما د شاعرۍ له زیات سوز د مور پلار غم ورکه او د وړو روڼو خوېندو مستقبل طرف ته زیاته متوجه شوم او د هغوي پرورش ما نه ځان بالکل هېر که چې زۀ هم دنیا کښې یو ژوندی بنده یم"(۹).

## د درد ژړا

''ماتــه ددې شــپې تنهــایۍ کښــې چــې اواز اونــۀ کــړې
چـــې کـــم اواز مـــې ژړوي چـــې هغـــه ســـاز اونـــۀ کـــړې
چـــې هېرومـــه دې نـــور هـــم دې زیـــات یادونـــه راځـــي
پـــه زړۀ مـــې بیـــا بیـــا تـــا ســـره تېـــر ســـاعتونه راځـــي
چـــې رســـوا خفـــه زړګیـــه هغـــه راز اونـــۀ کـــړې
ماتــه ددې شــپې تنهــایۍ کښــې چــې اواز اونــۀ کــړې"(۱۰)

د الفت بېګم درد شاعري چې ما اوستایله نو ما د غې د زړۀ درد خپله مې محسوس کړو چې د هغې احساسات څۀ رنګې وو. د ''حیات درد'' یو نظم وړاندې لیکم.

## د روح زخم

هغـــه بنـــده یـــو چـــې زمـــا تربنـــه ګیلـــې وې ډېـــرې
هغـــه ســـره چـــې مـــې د مینـــې سلســـلې وې ډېـــرې
وخت اولیدو کښې به په زړۀکښې هېڅ طلب نۀ ښکارېدو
چـــې شـــه جـــدا د ضـــرورت مـــې مرحلـــې وې ډېـــرې
پـــــه هـــــر یـــــو لاره ماتېدلمـــــه نوســـــتلې شـــــومه
پـــه روح کښـــې پټـــې مـــې د حشـــر سلســـلې وې ډېـــرې
زۀ پـــه ســـوچونو پـــه فکرونـــو بانـــدې ســـترې شـــومه
ستـا پـه وصـال هجـران کښـې ګرانـې فېصلـې وې ډېرې
مـــا ســـتا پـــه کلـــي کښـــې تـــۀ هیچرتـــه پېـــدا نـــۀ کـــړې
بـــس دی ځـــم ســـختې ورځـــې شـــپې زمـــا دې وې ډېـــرې
درد تـــــه خوښـــــه وه تجربـــــه ددې دنیـــــا د خلقـــــو
کـــړې غلطـــې ئـــې ټـــول عمـــر فېصـــلې وې ډېـــرې"(۱۱).

کلثوم زېب د الفت بېګم په بابله لیکي:

''مس الفت درد زمونږ خپلوانو کښې ده. زما د پلار خور د هغې په ترۀ وادۀ ده. او دغسې ددغې کورنۍ سره زمونږه یو کلک تړون دی. اګرچې الفت بي بي اوس نشته خو د هغې کور د کور انګڼ د هغې خور، رونړه، نوسي، نوسۍ،

خورزيږ، خوريونه ټول ډېر په فخر د هغې نوم اخلي او يادوي ئې. زهٔ کله کله سوچ کوم چې د هغې د لوی کور د اوړد ديوال سره د پوخ لختي په روانو اوبو کښې به الفت درد بي بي هم پښې په اوبو کښې لاندې ايښې وي. شعر به ئې ليکلي وي او د يخو اوبو تاثير به ئې مزغو ته رسېدلی وي"(۱۲).

## (۵) مس انور شاه

د صوابۍ د ادينه کلي دا ليکواله مسز انور شاه د سيد سلطان حسن شاه لور ده چې په کال ۱۹۳۹ء کښې د دسمبر په څلورمه نېټه زېږېدلې ده. د تعليم په سلسله کښې دوی لسم د خپل کلي نه، بي ايس سي د فرنټيئر کالج پېښور نه او ايم ايس سي ئې د پېښور يونيورسټۍ نه کړې ده. د ملازمت په سلسله کښې ئې اغاز د فرنټيئر کالج نه د ليکچرر په حېثيت اوکړو او بيا څهٔ وخت پس په جناح کالج کښې تعينات شوه.

مسز انور شاه چې د سائنس استاذه وه نو په دې وجه ئې د سائنس په مختلف موضوعاتو مضامين ليکلي دي ولې د ادبي طبيعت له مخه ئې په نثر کښې افسانه او دې سره شاعري هم کړې ده. چونکې دا زنانه ليکواله ده نو په دې وجه ئې د نورو زنانه ليکوالو غوندې په افسانه او په شاعرۍ دواړو کښې د زنانؤ ترجمانه کړې ده. د مسز انور شاه افسانې په پښتوادب کښې خپل ځان له يو مقام لري. د افسانو اندازِ بيان ئې اسان فهم او روان دی. ژبه ئې ډېره ساده او نازکه ده.

شاه جهان صېب د مسز انور د افسانو په حقله ليکي :

"لکه سوره، بي بي فاطمه، باز او خوشحال د خوشحال خان خټک شاعري"(۱۳).

## (٦) مېرمن ياسمين پروېز احمد خان

د صوابۍ د دوبيان کلي دا پښتنه ليکواله مېرمن ياسمين پروېز احمد خان د شېربهادر خان کره د جنورۍ په يوولسمه نېټه په کال ۱۹۵۰ء کښې زېږېدلې ده. د خاوند نوم ئې پروېز احمد خان دی. چې د **Pakistan Study Centre** ډائريکټر ؤ.

یاسمین پي اې خان خپل ابتدائي تعلیم په ایبټ اباد پبلک سکول کښې ترسره کړو. او لسم ئې د Lady Grift High School نه اوکړو. هم دغه شان ئې څوارلسم د جناح کالج پېښور یونیورسټۍ نه اوکړو. او پښتو کښې ئې د شپاړسم سند هم ترلاسه کړ. هم په دغه لړ کښې ئې د پښتو څانګې د استاذۍ په لړ کښې د پښتو اکېډیمۍ مجله په "پښتو" باندې د پي ایچ ډي مقاله اولیکله چې د پي ایچ ډي سند ئې پرې ترلاسه کړو. د ملازمت په سلسله په جولائي ۱۹۷۷ء کښې په پښتواکېډیمي کښې په Publication Officer په عهده تعینات شوه. ولې څۀ موده پس ئې په پښتو شعبه کښې د درس و تدریس کار شروع کړو او هم د پښتو څانګې نه د پروفېسر په حېثیت سبکدوش شوه. کلثوم زېب د یاسمین په باره کښې لیکي:

"د افغان مهاجرینو دپاره ډېر کتابونه په پښتو کښې ترجمه کړي دي. د پښتو اکېډیمي په "پښتو" مجله کښې د "پاکو بیبیانو" په نامه باقاعده لیک راتلو. د مذهب نظریه لرلو، څنې بعضې مضمونو نه ئې په نظر راځي لکه "ام المؤمین حضرت عائشه صدیقهرض، پاکې بیبیانې، حضرت فاطمه بنت اسد"(۱۴).

ددې نه علاوه ډېره نفس او نرم مزاج انسان ؤ. شاه جهان صېب ډېر وخت د یاسمین سره په یو ډیپارټمنټ کښې تېر کړی ؤ. هغه د هغې د مزاج نه ښۀ اشنا ؤ. شاه جهان صېب د یاسمین په باره کښې لیکي:

او په جولائي ۱۹۷۷ء د پېښور یونیورسټي په پښتو اکېډیمي کښې د مطبوعاتو د څانګې د مشرې په حېث مقرره شوه خو دا د زړۀ چاؤدون کار ئې خوښ نۀ شو او پښتوشعبې ته ئې بدلي اوکړه. د مېرمن یاسمین پروېز احمد خان د پښتو لیک سره ډېره مینه او شوق دی. دوی په پښتو کښې دوه کتابونه " د خوراک حفاظت" او "لګېدونکي مرضونه" لیکلي دي. دا دواړه کتابونه د دوی د اعلٰی ذهانت ښکاره دلیل دی. دواړه کتابونه معیاري او په تول پوره دي"(۱۵).

## (۷) نګهت یاسمین درمنه

د صوابۍ د زیدې کلي دا لیکواله نګهت یاسمین درمنه د نثار محمد خان کره په کال ۱۹۲۲ء کښې زېږېدلې ده. د خاوند نوم ئې جوهر زېب دی. د تعلیم په سلسله کښې دوی د پېښور یونیورسټۍ نه ایم ایډ، ایم اې کړې دې. د علامه اقبال اوپن یونیورسټۍ نه ایم فل کړی دی او د پېښور یونیورسټۍ په پښتو ادبیاتو کښې پي ایچ ډي کړې ده او د ملازمت په سلسله کښې ئې د ټېکسټ بک بورډ کښې د سبجیکټ په عهده خپل فرائض ترسره کړي دي.

دې لیکوالې یو شمېر نثري او منظوم مجموعې چې پکښې افسانې د ماشومانو ادب او شاعري وغېره شامل دي. د خپل قلم نه ورویستي دي. دا محترمه چونکې د ټېکسټ بُک بورډ سره منسلک وه نو د پښتو نصاب په حواله ئې هم ګڼ خدمات زمونږ مخې ته دي. د دوی د مجموعې نومونه دا دي. ''انتظار، سکندر، لړلې برستن، بې منزله مزل، سدره ګلونه، راټولې پاڼې '' وغېره.

د نګهت یاسمین په افسانو کښې د ښځو نفسیات، د ښځو مسائل او احساسات ډېر په ښکلي طریقه پېش شوي دي ځکه چې دا په خپله یوه ښځه ده او په پښتني معاشره کښې د ښځو کوم مسائل دي هغه د هغې نه ښهٔ خبر ده او شاید د ځینې مسئلو سره په خپله هم مخ شوې ده. په سکندر افسانه اشفاق احمد د پي ایچ ډي سکالر لیکي:

"زما په خیال د پښتو ادب د افسانې د مېدان نورې لیکونکې د څهٔ وخت لیکونو نه وروستو د وخت په پردو کښې پټې شي خو نګهت یاسمین دا وخت په خپل لیک د پښتو افسانې د ودې دپاره د پشکال د باران کار ورکوي"(۱۶).

کلثوم زېب د نګهت په باب لیکي :

'' درمنه کله کله شاعري هم کوي خو د شاعرۍ سلسله ئې لکه د افسانې مسلسل نه ده روانه. زما په خیال هغه د شاعرۍ نه زیاته نثر ته مائله ده. دلته د نګهت بي بي د شاعرۍ څهٔ نمونه وړاندې کوم.

تنده مې په ورځ په ورځ زیاتېږي
زړهٔ مې خوئېږي زړهٔ مې ډوبېږي
هېڅ خبر نهٔ یم خو څهٔ چل کېږي

ما سره کښېنه ما نه مۀ تښته
مئين خو يو بل، سره خوښېږي
ما په ديدن موړ کړه دلبره
په ديدن کله سترګې مړېږي
نن فېصله مې کړې په زړۀ ده
نن باغي کېږم هر څه چې کېږي
زما دپاره بخښنه غواړم
ستا په کوکې دعا قبلېږي
د ديدن تږې کله مړېږي
تنده مې ورځ په ورځ زياتېږي"(۱۷)

## حوالې

(۱) شاه جهان، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه، مخونه ۲۹۱ تا ۲۹۴
(۲) کلثوم زېب، پښتنې ملغلرې، مخ ۸۹
(۳) کلثوم افضل زیدوي، سنګ تارې، عکس پرنټرز پشاور، ۲۰۱۰ء، مخ ۴
(۴) کلثوم افضل زیدوي، عکس جمال، عامر پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۲۱، مخونه ۸۲، ۱۰۷
(۵) کلثوم افضل زیدوي، د هجر موسمونه، عامر پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۳ء، مخ ۲۲
(۶) کلثوم زېب، تږې سترګې، سریزه سیف الرحمان سلیم، مخ ۳
(۷) کلثوم زېب، ځلنده سباؤن، سریزه سلمیٰ شاهین، ۲۰۱۸ء، مخ ۹
(۸) مس یو بي درد، حیات درد، شاهین برقي پرېس پېښور، ۱۹۷۹ء، مخ ۱۵
(۹) همدغه اثر، مخ ۱۷
(۱۰) همدغه اثر، مخ ۷۰
(۱۱) همدغه اثر، مخ ۸۷
(۱۲) کلثوم زېب، پښتنې ملغلرې، مخ ۸۳
(۱۳) شاه جهان، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه، مخونه ۲۷۵ تا ۲۷۹
(۱۴) کلثوم زېب، پښتنې ملغلرې، مخ ۱۰۹
(۱۵) شاه جهان، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه، مخونه ۳۵۲، ۳۵۳
(۱۶) نګهت یاسمین دړمنه، سکندر، مخ ۵
(۱۷) کلثوم زېب، پښتنې ملغلرې، مخ ۲۰۹